ډاکټر عبدالرحمن زماني ۵ مارچ ۲۰۱۵

# پر اماني دورې ډیوهاند کاکړ کتاب ته یوه کتنه

## (دریمه او وروستۍ برخه)

### نوې کتنه او که د انګریزانو له فتنو ډکو تبلیغاتو په پلویتوب تکراري خبرې ؟

هغه څه چې د جناب ډاکټر صاحب کاکړ «د پاچا امان الله واکمنی ته یوه نوې کتنه» کتاب کې نوي ندي، هماغه د انګریزانو له فتنو ډک تبلیغات دي . کاکړ صاحب د تاریخي حقایقو پر ځای، د نوې کتنې تر نامه لاندې، پرته له باوري اسنادو او مدارکو ، دیوه انګریزی ایجنټ د یوې لیکنې په استناد، پر حقایقو او واقعیتونود جعل او تحریف پرده غوړوي، او داماني رژیم د لومړي درجه دښمن د تبلیغاتو په مرسته خپلې پیژندل شوې لیدلورې بیا تکراروي. دلته ستاسې پاملرنه څو بیلګو ته را اړوم:

### 1. د امانی رژیم پر وړاندې د انګریزي دسیسو او توطئو څخه مطلق انکار :

ډاکټر صاحب کاکړ د انګریزي دسیسو د اسنادو نه لیدل یا نه شتون، د دسیسو د نشتوالي دلیل ګڼي او وایي چې «ډاکټر ادمک چې خپل کتاب یې د برتانیې او هند د حکومت د رسمي پاڼو او راپورونو له مخې لیکلی داسې کومه لیکنه نه ده لیدلې، چې انګریزانو به د پاچا امان الله په نسکورولو کې لاس لرلی وي» (۱۳۸ مخ). «په افغانانو کې تر اوسه هم اوریدل کیږي، چې د پاچاامان الله نظام د انګریزانو په توطیو سره نسکور شوی. منشی علی احمد په دې اړه وایي چې په خپله په افغانستان کې هغه علتونه چې د انقلاب سبب شول، د افغان مامورانو او درباریانو له خوا د برتانیې حکومت توطیو ته منسوب شوي دي . (هماغه ځای). «تر اوسه پورې دغسې لیکنه لیدل شوې نه ده چې د هغې له مخې به د پاچا (امان الله) په نسکوریدو کې د هند حکومت لاس لرلی وي» ( ۱۳۸ و ۱۳۹ مخونه).

ډاکټر صاحب کاکړ د خپل دغه دریځ څخه د دفاع په غرض پښه اوږدوي او داسې استدلال کوي چې «د برتانوي هند او د برتانیې د حکومت سیاست دا نه و، چې د امان الله نظام دې نسکور شي، هغه هم د داړه مارانو له خوا چې په واک کیدو سره به یې افغانستان په حتمي ډول او هندوستان په احتمالي ډول نا‌ارام وي» ( ۱۳۹ مخ). البته دا لومړی ځل ندئ چې ډاکټر کاکړ داسې استدلال کوي. هغه تر دې پخوا هم ویلي چې زه تر اوسه داسې سند سره مخامخ شوی نه یم چې څرګنده کړي انګریزانو د اعلیحضرت امان الله خان په نسکورولو کې لاس لرلی وي . هغه حتی دعوه کوي چې «..انګریزانو د امان الله خان څکه ملاتړ (حمایت) کوو چې هغه د عصري کولو (پرمختګ) او ټولنې د مدني کولو پلوي ؤ ».[1]

### 2. د اماني نهضت د ناکامیدو پړه په خپله غازی امان الله خان او افغانانو په غاړه اچول

انګریزي استعمار سره له دې چې یو قوي افغانستان او غازي امان الله خان خپلې واکمنی او سیاسي، اقتصادي او پوځي ګټو ته لوی ګواښ ګڼله، او د غازي امان الله خان د وژلو او له منځه وړلو د دسیسو او توطئو په څنګ کې یې د هغه د سلطنت د نسکورولو د پاره د هر فرصت څخه استفاده کوله، او په دې لاره کې یې د مذهبي مشرانو او دولت د مخالفینو د لمسولو او مرستې هیڅ کوښښ نه سپماوه، تل دا تبلیغ کړی دئ چې ګواکې د اماني رژیم د نسکوریدو اصلي سبب د اصلاحاتو د پروګرام د پیل کولو له امله د غازي امان الله خان اشتباهات وو، چې خلکو ته د منلو وړ نه وو.

[1] . د امریکا غږ راډیو آشنا د پروګرام سره د ۱۳۸۶ کال د زمري د میاشتې د ۲۹مې (۲۰۰۷ میلادي کال د اګست د ۱۸ مې) نیټې په پروګرام کې د افغانستان د خپلواکی د ګټلو د اته اتیاوم تلین په مناسبت د کابل او کلیفورنیا څخه د تاریخ د دوو کارپوهانو، استاد حبیب الله رفیع و ډاکټر کاکړ سره مرکه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

ډاکټر کاکړ هم د خپل کتاب له پیله، د تاریخي حقایقو پرځای د انګریزانو دا تبلیغات سم ګڼي او د خپل کتاب د لومړنیو خبرو په لومړني پراګراف کې لیکي چې «دی (امان الله خان) هغه لومړی افغان واکمن دئ چې د ټولنې د مدني کولو او عصري کولو لپاره یې پراخ سمونونه پلي کړل او د هغو له امله له وطن نه وشړل شو» (۱۴ مخ). ګواکې دا د افغانستان باندني دښمنان او د هغوی داخلي ایجنټان نه، بلکې د افغانستان خلک وو، چې هغه یې د هیواد پرېښودو ته مجبوره کړ. د یادونې وړ ده چې کاکړ صاحب په خپل کتاب کې بیا بیا غازي امان الله خان د انګریزانو په سبک او لهجه په سپکه تش د «امان الله» په نامه یادوي او د د هغه په هکله د «وشړل شو» او «په پښو کې ورغړېدو» په شان داسې ژبه استعمالوي، چه د دغه ستر شخصیت په وړاندې د انګریزانو د نفرت او کرکې د انتها څرګندونه کوي .

## 3. دمحمد ولی خان دروازی، غلام صدیق خان څرخی او دانګریزانو نورو مخالفو شخصیتونو بدنامول او پر هغوی د غازي امان الله خان سره د خیانت تور لګول :

کاکړ صاحب پرته له کوم تاریخي معتبر سند او مدرک څخه، بیا هم د انګریزي ایجنټ د لیکنې په اساس د قضاوت پر ګدی کښیني اوغازي امان الله خان د نژدې ملګرو او انګریز دښمنو شخصیتونو د کرکټر د وژنې حکم صادروي او لیکي چې «غلام صدیق ا و محمد ولی د پروګرام له مخې په پټه د شینوارو او کوهدامن د داړه مارانو په لمسولو سره بې امنیتي واقعي کړي او د کابل د نسکوریدلو لپاره ډګر هوار کړو » (۱۳۶ مخ).

## 4. د حقایقو او واقعیتونو د پټ ساتلو هڅې

د ډاکټر صاحب کاکړ په دې کتاب کې د ضد او نقیض لیکلو زیاتو مواردو سره مخامخ کیږو . البته دا ضد او نقیض لیکل له دې امله نه دي چې مؤلف د مختلفو سرچینو او اړخونو څخه پر پېښو او روایاتو رڼا واچوي، بلکې داسې هڅه ده چې د رښتیاو او دروغو په یوځای کولو سره د لوستونکي ذهن سرګردانه او مغشوش کاندي . مونږ د ګران هیواد په معاصر تاریخ کې داسې نور مثالونه هم لرو چې د همدې ډول تحریفاتو په نتیجه کې یې ډیر کسان د شخصیت پرستی، شاه پرستی او بیګانه پرستی په دام کې راګیر کړي دي .

یوې دوو بیلګو ته پاملرنه وکړی او خپله پرې قضاوت وکړی :

- ډاکټر صاحب کاکړ لومړی لیکي چې «...(غازي امان الله) په افغانستان کې د لومړي ځل دپاره ددغسې بنسټیزو سمونونو په پلي کولو پیل وکړ، چې په هغو سره افغان ټولنه مدني، سیاسي نظام عصري او د فرد خپلواکي واقعي کړي» (۱۳ مخ). هغه بیا هم په ۱۲۸ او ۱۲۹ مخونو کې د بیلابیلو آثارو په حواله یوځل بیا د ټولنې د مدني کولو اود سیاسي نظام عصري کولو ته ګوته نیسي د غازي امان الله خان په واکمنۍ کې د قانون د حاکمیت صفتونو ته ادامه ورکوي چې « د پاچا امان الله په څه لږ لس کلنې دورې کې هیڅ افغان د سیاسي نظر د څرګندولو له امله بندي شوی نه دی . دا چې په هغه وخت کې سیاسي ډلې له افراطي مفکورو سره فعالې وې، د همدغه آزادۍ له برکته و. پاچا امان الله دیوه پاک زړي واکمن په توګه د جاسوسۍ (استخباراتو) له څانګې نه کار وانه خیست . ښځو ته د ځینو اساسي حقوقو په منلو سره پاچا امان لله د ټولنې د مدني کولو په لور یو بل مهم ګام پورته کړ. د ټولنې د مدني کولو په لور یو بل اساسي ګام د پوهنې عام کول وو، چې پاچا ددغه نظر له مخې واخیستل شو، چې "باید کوشش ما و شما در عالم بودن و دانسته شدن تمام افراد افغانستان باشد اګر چه مسلمان باشد یا هندو و یا دیګر کسي باشد" ده له پوهې او پوهنې او فن سره دغومره علاقمندي لرله، چې په کال ۱۹۱۴ کی یې د محمود طرزي له ثریا نومې لور سره د خپل واده لګښت د یوه ښوونځي د جوړولو لپاره خاص (وقف)کړ».
  خو ډاکټر صاحب کاکړ وروسته د غازي امان الله خان په هکله بل څه وایي او لیکي چې «هغه د امنیت د ګډوډونکو په برابر کې هغسې بې رحم و لکه نیکه چې یې و. د هغو د له مینځ نه وړلو لپاره یې سم له لاسه د اعدام حکم ورکاوه، بې له دې چې د اعدام پایلې په نظر کې ونیسي» (۱۳۲ مخ).

- ډاکټر صاحب کاکړ لیکي چې « په دغه ډول افغانانو د پاچا امان الله په مشرۍ په جنګ او سولې سره له انګریزانو نه خپله پوره خپلواکي له ۳۹ کلونو نه وروسته ترلاسه کړه. افغانستان د نړۍ پوره خپلواکه هیوادونو په قطار کې سر هسکی ودرید او افغانان سر لوړي شول او پاچا امان الله غازي وپیژندل شو او په نړۍ کې یې نوم وایست، خو د سرحد د پښتني قومونو په اړه اساسي څه ونه شول» (۲۵ مخ).
  خو بیا په یوه بل ځای کې لیکي چې «البته په دې کې شک نشته چې دافغانستان او د هند حکومت اړیکې د ختیځوپښتنو په سر کړیکچن و او احتمال لري، چې د هند د حکومت سرحدي ماموران به د خپلو معاش خورو


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولئ

ملايانو له لارې د پاچا امان الله او ملکې ثريا پر ضد لمسوني کړي وې. که دغه لمسوني په رښتيا شوي وې، هغه به لمسوني وې، نه نظامي عمل» (۱۳۹ ا و ۱۴۰ مخونه).

کاکړ صاحب آفرين مو په داسې مهارت شه چې خلکو ته په شاتو کې زهر ورکوی!

## په تاريخ کې د سترې جعل کارۍ کوچنی بيلګې

البته البته د کاکړ صاحب په کتاب کې ټول شيان هم تکراري ندي . په اوبو د نورو لاهو شوو ګلونو يو څو نمونو ته يې پاملرنه وکړی :

1. ډاکټر کاکر ليکي چې «امير امان الله بيا زما ديوې باوري سرچينې په حواله د خپل بندي تره د وژنې سبب شو(۱۸ مخ) . دلته د سردار نصرالله خان د مړينې د پيښې څخه تقريباً يوه پيړۍ وروسته هم کاکړ صاحب د خپلې باوري سر چينې د ښودلو جرئت نه کوي، او نه حاضريږي چې د هغې پيښې جريان او څرنګوالي وښايي . ولې کاکړ صاحب نه غواړي چې خلکو ته حقيقت څرګند شي؟
2. ډاکټر کاکړ په يوه بل ځاى کې ليکي چې «امير حبيب الله خان وروسته له دې چې (استاد خليلي د پلار مستوفی الممالک د رپوټ په اساس د امان الله خان او د هغې د مور لخوا د ده د وژلو) په دغه توطيې ځان نور هم باوري کړ، پريکړه وکړه چې امان الله ووژني او مور يې طلاقه کړي، خو دوی چې د امير د پريکړې نه خبر شول، نصرالله ته لاړل او په پښو کې يې ورغړيدل او په عذر او زارۍ يې ترينه و غوښتل، چې امير ته يې شفاعت وکړي» (۱۶ او ۱۷ مخونه).

دلته کاکړ صاحب دوه بيلابيلې پيښې سره يوځاى کوي او د تاريخي حقايقو په بدلولو سره ځان خپل هدف ته رسوي، يا په بله ژبه، اوبه خړې او ماهيان نيسي . لومړی پيښه د مستوفی الممالک ميرزا محمد حسين خان لخوا امير ته د امان الله خان په هکله د رپوټونو ورکول وو. دا يو منل شوي حقيقت دئ چې مستوفی الممالک هغه تر سختې څارنې او تعقيب لاندې درلود، او د امير او ځوی تر منځه د مناسباتو د خرابولو دپاره يې پر امير د دزو او په کابل کې د پټو خبرونو په شان هر حرکت پر هغه تپلو.

دوهمه کاملاً جلا پيښه د غازي امان الله خان د مور د طلاق ګواښ وو، چې په ځپيره د امير حبيب الله خان د وهلو وروسته منځ ته راغلې او په رښتيا هم د نصرالله خان په منځګړتيا حل شوې وه . دا پيښه د چهلستون په قصر کې د اميرحبيب الله خان د عياشۍ په هغه محفل کې منځ ته راغلې وه چې د امير خور، اخت السراج، ورته برابر کړی و. کله چې د امان الله خان مور، عليا حضرت ددغه محفل نه خبريږي، په چټکۍ سره ځان د چهلستون مانۍ ته رسوي، ناڅاپه قصر ته ننوځي، او ځان اخت السراج ته چې د امير څنګ ته ولاړه وې، رسوي او هغې ته يوه سخته څپيړه حواله کوي. خو اخت السراج ځان په چټکۍ سره شاته کوي او څپيړه د امير پرمخ وربرابريږي . د امير پر مخ د ملکې د څپيړې آواز ټول خلک اوري او ددغه ننداري په ليدو ټول حاضرين خاندي او وايي چې د امير د عيش محفل په غيش تبديل شو.

د تاريخي پيښو د متن څخه د خاص مقصد دپاره د ټاکل شوو جملاتو راويستل او هغه په بله بڼه خلکو ته رسول که د تاريخ بدلول او د شخصيت ترور نه وي، نو په څه نوم يې يادولي شو. دا چې اميرحبيب الله خان د خپل ځوی امان الله خان د وژلو پريکړه کړې وه، هغه بله نوې خبره ده چې مونږ يې يواځې د کاکړ صاحب په کتاب کې لوستلې شو .

3. کاکړ صاحب د محمد ولي خان دروازي او غازي امان الله خان د اړيکو په هکله، په خاصه توګه کله چې د اروپا سفر ته روانيدو، ليکي چې «دا هغه وخت و چې د حرب پر وزير محمد ولي باندې پاچا خپل باور له لاسه ورکړی و او غوښتل يې له دغه وزارت نه يې ليرې کړي . هغه يې خپل نائب او د بهرنيو چارو وزير کړ» (۷۵ مخ). څه عجيبه استدلال او منطق! پاچا پر يوه کس بې اعتماده کيږي، او غواړي چې له صحنې يې وباسي، نو هغه د دولت په تر ټولو لوړې چوکۍ کښينوي او د سلطنت نيابت ورته ورکوي، هغه هم هغه وخت چې خپله شپږ مياشتې د هيواد نه بهر ځي .
4. کاکړ صاحب په يوه بل ځاى کې د منشي علی احمد خان په حواله ليکي چې «په کابل کې يو شمير کسان چې زده کړه يې کړې او په باندنيو هيوادونو کې ګرځيدلي وو، د محمد ولي په ګوند کې په پټه ننوتل او د افغان جمهوريت جوړولو په امکاناتو باندې يې په پټه بحثونه کول . په هغو کې دغه کسان وو: غلام صديق څرخي، عبدالهادي داوي،


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

حبیب الله خان (د حرب وزیر مرستیال)، عبدالرحمن خان لودین، علي محمد خان، میرزا محمد خان، میرقاسم خان، ځیني نظامي افسران او ځیني غیر مهم کسان لکه میرغلام محمد (غبار) او نور . شجاع الدوله خان او محمد یعقوب خان د دربار وزیر هم په دغه ګوند کې وو» (۵۴ او ۵۵ مخونه) .
دا کسان چي کاکړ صاحب یي نومونه یادوي، مشروطه غوښتونکي او د غازي امان الله خان نیږدي ملګري او پلویان وو. کاکړ صاحب بیا هم د انګریزي تبلیغاتو په مرسته ددغو انګریز دښمنو عناصرو د شخصیت ترور ته لستوني رانغاړي، او غواړي چي بیا هم د عامه ذهنیت د بدلون دپاره تور سپین او سپین تور معرفي کوي .

بنه به دا وي چي په دي هکله خپله د ارواښاد غلام محمد غبار نه واورو چي د نقابدار ګوند تر سر لیک لاندي په دي هکله څه لیکي: « د وطن پرستو روښنفکرانو په منځ کې یوه ډله مرموزه عناصر د نقابدار او مصنوعي ګوند په بنه ورننوتل . دغو نقابدارو شارلتانانو د هیواد په مرکز او ختیځ کې د خلکو د غولولو دپاره په دروغو «انقلابی» شعارونه ورکول او په ظاهره دجمهوریت پلویان وو، خو په حقیقت کې دیموکراسی، جمهوریت او ترقی سخت دښمنان وو، او د نورو دپاره یي خدمت کاوه ، او وروسته بیا ښرګنده شوه چي دوي یواځي د استبداد او ارتجاع د لاس آله او د نورومزدوران وو، ځکه یي د جمهوریت غوښتني تر عنوان لاندي د اماني رژیم پیښي وهلي او په حقیقت کې یي د یوه ارتجاعي رژیم راتګ ته لاره پرانیستله .په داسي حال کې چي حقیقي دیموکراتان د زاړه فیوډالي نظام مخالفه وو، او د ارتجاع په وړاندي یي د اماني دولت د اصلاح او بقا پلویتوب کوو» ( افغانستان در مسیر تاریخ، ۸۱۴ مخ، د ایران چاپ .

5. کاکړ صاحب بیا هم د هماغه انګریزي استخباراتو د لیکني په مرسته د اماني دوري د وروستني لویي جرګي یو داسي روایت رانقل کوي، چي ړلر تر لره ما چیري هم لوستلي ندی. کاکړ صاحب لیکي چي غازی امان الله خان د لویي جرګي د بحث په ترڅ کې خپل کنټرول له لاسه ورکړ او په لوړ آواز یي وویل چي «دا ټول ملي مصیبتونه د تاسو له لاسه دي، تاسي ملایان چي له دووسانو نه پرته نور څه نه یئ، زه به هغه څه نافذوم چي یي غواړم او زه به ستر پرینبودل ان د برچو په زور عملي کړم، نه په غوړه مالی سره . یوه شئ چي زه یو انقلابي پاچا یم» (۸۸ او ۸۹ مخونه). دا هغه په اصطلاح د نووحقایقو بیلګی دي چي یواځي یي د کاکړ صاحب په کتاب کې موندلی شئ.
6. د غازي امان الله خان په لاس پرته له محاکمي د زرهاوو انسانانو وژل کیدل، بیا هم پرته له اسنادو او شواهدو هغه بل تور دئ چي مخکي ورته هم لنډه اشاره وشوه او پدي ورځو کې د کاکړ صاحب له خولي زیات اوریدل کیږي .
7. د کاکړ صاحب یوه بله ښرګنده جعل کاري هم د همدي لویي جرګي په اړه د ارواښاد غبار د افغانستان در مسیر تاریخ د لومړي ټوک د ۸۱۳ مخ په حواله یو روایت دئ . کاکړ صاحب لیکي چي « د همدغي موضوع په پاي کې د کابل وکیل غلام محی الدین (انیس) چي په روسیي کې یي زده کړه کړي وه، ولاړ شو او پاچا یي په دي ډول وپوښته چي :«ستاسي اعلیحضرت فکرونه ډیر ښه دي، خو تاسي اعلیحضرت ولي د وزیرانو په چلونو سترګي پټي کړي دي؟" ده دغه پوښتنه په دغسي حال کې وکړه ، چي وزیران هم ناست وو. پاچا ځواب ورکړ، چي "ما څنګه سترګي پټي کړي دي؟" محی الدین بیا کړه چي "لس کاله کیږي چي تاسي اعلیحضرت د اداري چارو په اړه قانونونه او مقررې ایستلي دي . په زرګونو اعدام یا بندي شوي دي، خو یو وزیر هم محاکمه شوی نه دی . د وزیرانو په اند په خپله پاچا هغه د دغسي اعتراض کولو لپاره هڅولی و او که نه هغه ددي زړه نه لاره، چي په دغه ډول وګړیږي» (۸۹ او ۹۰ مخونه).
که د کاکړ صاحب پورتني متن د هغه د سرچیني یعنی د غبار، چي په خپله د کابل وکیل او لویي جرګي کې حاضر وو، د کتاب د ۸۱۳ مخ د متن سره مقایسه کړو ، نو د هیواد د نامتو مؤرخ په تاریخ لیکني او رسالت به پوه شو.
د دغو دوو متونو په مقایسي سره لیدل کیږي چي :

- کوم وکیل چي خبري کړي وي، ښاغلي غلام محی الدین انیس (د انیس د جریدي مؤسس او د "بحران و نجات" د مسخه شوي کتاب مؤلف ( نه دئ، بلکي غلام محی الدین آرتی، د هغه وخت یو مشهور مشروطه غوښتونکي وو. د حیرانتیا ځاي دئ چي د افغانستان د معاصر تاریخ متخصص او استاد د دغه شخصیت د نوم سره پیژندګلوي نه لري، او د هغه نوم یي په لوي لاس په انیس بدل کړي دئ . که فرض کړو چي کاکړ صاحب د پوهاند عبدالحی حبیبي مشهورکتاب،«جنبش مشروطیت در افغانستان» یا په افغانستان کې د مشروطیت غورځنګ، د ارواښاد حبیبي صاحب سره د حساسیت او حسادت له امله لوستلي نه وي، نو د افغانستان در مسیر تاریخ کتاب خو به یي حتماً لوستلي وي . آیا د هغه کتاب د دوهم ټوک په ۳۸ مخ کې یي د نادر شاه د دولت په هکله د افغانستان د خلکو د نظر تر سر خط لاندي لوستلي نه دي چي « د هغې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په خیر و لولئ

ورځې په شپه چې د سپه سالار د پادشاهۍ اعلان وشو. د کابل د (جوانان افغان) د ډلې یو شمیر روشنفکرانو د لیکونکې د لاهورۍ دروازې په کور کې یوه حزبي ناسته جوړه او د نوي دولت په وړاندې یې د خپل دریځ د ټاکلو قضیه طرحه کړه . دا غونډه تر نیمې شپې اوږده شوه، د هغو له ډلې څخه غلام محی الدین خان آرتی وویل چې : د افغانستان مسئله دومره ساده نه ده لکه تاسې چې یې فکر کوئ . دهیواد د مقدراتو په ټاکنه کې یو پټ خارجي لاس لوی رول لوبوي . امانیه دولت د ښه نیت او انقلابي صبغې په درلودو سره، د لږې تجربې خاوند او مغروره وو، باندنیو لاسونو د کورنیو ایجنټانو په لاس بې لارې کړ او په خپلو لاسونو یې د هغه قبر وویست . آیا احمد علی خان لودین د بلدیې رئیس، علی احمد خان والی، شیر احمد خان د دولتی شورا رئیس، گل احمد خان دضبط احوالاتو رئیس، میرزا محمد یعقوب خان کابلی، حسین افندی د گمرک مدیر، علی محمد خان د سوداگرۍ وزیر، او په لسهاوو هندوستانیان، حتی د شیر احمد خان (تاجر) او نورو په شان بیسواده کسان څوک وو چې لس کاله د مارانو په شان د دولت په لستوڼو کې ولوبیدل؟ د انگریزانو دولت څنگه په افغانستان کې کورني مترقي پروگرامونه او په باندنیو چارو کې آزاد سیاست زغملې شو؟ آیا هغه بریتانوي هند ته دیوه تیره خنجر په شان متوجه قوي افغانستان لیدلې شو؟ د انگریزانو دولت لس کاله زیار وویست تر څو امانیه دولت او د هغې پروگرامونه له منځه یوسي . تر دې وروسته هغه د افغانستان له لورې ډاډه کیږي، او تاسې به په هیواد کې د یوه داسې مخربه پروگرام د پلې کیدو ننداره وکړئ چې د افغانستان (په تاریخ) کې به یې سارې لږ ولیدل شي .نو ځکه هر هغه ډله یا کس چې د نوي حکومت سره مرسته او ملگرتیا وکړي، داسې معنی به ولري لکه چې په جنایت کې یې گډون کړې وي ».

کاکړ صاحب تاسې به حتماً لوستلي وي چې د هغه مجلس گډون کوونکي غړي د تاج محمد خان پغمانی، فیض محمد خان باروت ساز، عبدالرحمن خان لودین، او خپله غلام محی الدین خان آرتی په شان مشروطه غوښتونکي د استعمار مخالفه آزادی غوښتونکي د خانداني رژیم لخوا ووژل شول .

محمد نادرشاه په یوه پلمه عبدالرحمن خان لودین، چې د کابل د بلدیې رئیس وو، د دلکشا مانۍ ته وروغوښت او رسیدو سره سم یې پوځیانو ته امر وکړ چې په مردکیو یې وولي، او بیا یې مړې ورته په خره په شوربازار کې د هغې میرمنې ته واستوو. تاج محمد خان پغمانی هم پاچا وروغوښت او پوځیانو ته یې امر وکړ چې د شیرپور په غونډۍ کې یې په توپ وروتړي او ټوټې ټوټې یې کړي، چې دا کار تر سره شو. فیض محمد خان باروت ساز چې د خپلواکۍ د جشن په مراسمو کې یې یوه پښه له لاسه ورکړې وه، له یوې پښې په زولنو تړل شوې او د توپ په خوله کې ټوټې ټوټې شو. غلام محی الدین خان آرتی چې څو کاله وروسته له ترکیې څخه هند ته راستون شو، د پېښور په ښار کې په مرموزه توگه د یوه ناپیژندل شوي کس لخوا د ټوپک په گولیو وویشتل شو، او کله چې په روغتون کې له مرگه راستون شو، نو بیا په هماغه روغتون کې ددوهم ځل دپاره تر برید لاندې راغې او ووژل شو. کله چې اروابناد غبار د استبدادي رژیم سره د نیغ په نیغه مبارزې دپاره له جرمني څخه کابل ته راستون شو، نو سمدلاسه زندان ته واستول شو چې اعدام شي، خو د نادر شاه په وژل کیدو سره له مرگه وژغورل شو او لس کاله یې ځنځیرونه، زندانونه او تبعیدونه وزغمل، ماشومان یې له ښوونځیو محروم او خپلوان یې له دولتي کارونو وویستل شول . دا ټولې وژنې، بندیتوبونه او فراریتوبونه پرته لو کومې محکمې، اسنادو د وړاندې کولو او شاهدانو د شهادته او حتی په مشخصه جرم د تورن کیدو تر سره شول .

- د اروابناد غبار په متن کې، د کاکړ صاحب د نقل شوي متن په خلاف د اروابناد محی الدین آرتي وینا داسې لولو چې «د کابل انتخابي نماینده غلام محی الدین خان آرتی، چې د دولت د جنگی مهماتو د اخیستلو دپاره یې شخصاً درې سوه زره روپۍ، منلې وې، چیغې کړې چې " اعلیحضرته، ترڅو چې دا په فساد مشهور وزیران محاکمه او اعدام نه شي، په هیواد کې هیڅ ډول اصلاحات امکان نه لري".
- د کاکړ صاحب دا وینا چې "لس کاله کیږي چې محی الدین بیا کړه چې تاسې اعلیحضرت د اداري چارو په اړه قانونونه او مقررۍ ایستلي دي ، هیڅ د غبار په لیکنه کې نشته.، بلکې دا د یوه بل مشروطه خواه، عبدالرحمن خان لودین،ده چې په یوې وروسته غونډې کې یې د کابل د استور په چمن کې د صدارت د دندې په اړوند کړې ده .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

- خو شايد د کاکړ صاحب تر ټولو ستر دروغ او تهمت چي د افغانستان در مسير تاريخ د لومړي ټوک د ۸۱۳ مخ په حواله يې  غلام محی الدين خان آرتی پوري تړلي دئ، د اماني رژيم لخوا د زرهاوو کسانو وژل او بندي کول وي . کاکړ صاحب هماغه شان چي د انګريزانو د ايجنټ ليکنه پر منشي علي احمد خان ورتپي، د دغه سترو دروغو او تهمت مسئوليت هم د اروابناد غبار په غاړه اچوي .

واقعيتونه د تل دپاره پټ او پوښلي ساتل کيدای نه شي . د جناب پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ څخه د کابل پوهنتون د يوه سابقه داره استاد او هيواد د معاصر تاريخ د مؤرخ په توګه نه يواځي دا تمه کيږي چي تاريخي واقعيتونه لکه څنګه چي پيښ شوي دي، پرته له حب او بغض او روابطو، په پوره امانت داری سره  تاريخ کي ضبط او ثبت کړي . دوی اوس بايد پر خپل دغه ذکر شوي کتاب بيا له سره نوی کتنه وکړي، او يا هم  لږ تر لږه د خپلي ليکني د دفاع په برخه کي کره اسناد او مدارک وړاندې کړي، او که نه نو خپله به په تاريخ کي د يوه داسي تحريف کاره مؤرخ په توګه ثبت شي چي رښتيا او دروغ يې سره ورګډ کړي، تاريخي پيښنو ته يې جعلي روايتونه جوړ کړي، او په تاريخ کي يې د دروغو د ثبتولو دپاره جعلي اسناد او سرچيني جوړي کړي دي .

(پای)


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ